# په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت:

د ۲۰۲۴ کال اکتوبر – دسمبر میاشتو تازه راپور

**د بشري حقونو** لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیشنر دفتر

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی**

## د دغه راپور په اړه

په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه دغه تازه معلومات چې د ۲۰۲۴[1] کال له اکتوبر څخه تر دسمبر پورې موده تر پوښښ لاندې نیسي، د هغې څارنې پر بنسټ ولاړ دي چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د ورکړل شوي ماموریت له مخې ترسره شوې.[2]

## د ښځو او نجونو حقونه

لکه څرنګه چې د ۲۰۲۴ کال د دسمبر په ۱۰مه د بشري حقونو د نړیوالې ورځې په مناسبت د یوناما په اعلامیه کې یې یادونه شوې وه: "د *برحاله* چارواکو د بشري حقونو سابقه په ځانګړې ډول د ښځو او نجونو پر وړاندې د دوی د سیستماټیک تبعیض له امله د پام وړ ده، چې د زده کړو او کار په ګډون د ورځنې او عامه ژوند له ډېرو برخو څخه محرومې شوې دي". [3]

د راپور ورکولو په موده کې، *برحاله* چارواکو د ښځو او نجونو پر حقونو نور محدودیتونه هم ولګول. (د هغو فرمانونو او احکامو د زماني جدول لپاره چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵راهیسې د برحاله چارواکو له خوا معرفي شوي او ښځې او نجونې اغیزمنوي، د دغو تازه معلوماتو ضمیمه وګورئ.)

### *په طبي انسټیټیوټونو کې د ښځو پر زده کړو بندیز*

د دسمبر په ۲مه، په کابل کې د عامې روغتیا د *برحاله* اداري مرستیال وزیر د افغانستان د بیلابیلو طبي انسټیټوټونو استازو ته په شفاهي توګه خبر ورکړ چې د دسمبر له ۳مې نیټې وروسته به ښځینه زده کوونکو ته په طبي انسټیټونو کې په ټولګیو کې د ګډون اجازه نه ورکول کېږي. دغه انسټیټیوټونه په بیلابیلو برخو کې کورسونه وړاندې کوي، لکه قابلګي، نرسنګ، د غاښونو طب، انیستیزي، د طبي لابراتوار ساینس او تغذیه.

ښځې لا دمخه په پوهنتون کې د طب له زده کړو څخه منع شوې وې ، چې د *برحاله* چارواکو لخوا د ۲۰۲۲ کال د دسمبر په ۲۰مه پوهنتون ته په داخلېدو بندیز نافذ شو.

له طلوع نیوز سره په یوه مرکه کې، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړې استازې مرستیال، استوګن او د بشري مرستو همغږې کوونکې، انډریکا راتوټې، د دغه بندیز هغه اغیز په ګوته کړې چې پر هغو زرګونو میرمنو به یې وښیندي چې اوس مهال په طبي انسټیټیوټونو کې زده کړې کوي:

> *" ۳۶۰۰۰ قابلې په زدکړو بوختې وې، ۳۰۰۰ نرسانې په زدکړو بوختې وې. که په خصوصي او دولتي طبي انسټیټوټونو کې دا کار ودرول شي، نو دوی به فارغ نه شي او په دې معنی چې دا خلک به ونه شي کولای چې د افغانستان ټولنې ته د ښځو او نجونو د مرستې لپاره لاړ شي او د دوی په روغتیا او هوسایني به مستقیمه اغیزه وکړي."[4]*

د بندیز په وخت کې، ډېری طبي انسټیټیوټونو لا تر اوسه د خپلو زده کونکو لپاره وروستۍ ازموینې نه وې ترسره کړې. د دسمبر د ۳ نېټې په شاوخوا کې، د *برحاله* لوړو زده کړو وزارت د راپورونو له مخې یو شمیر طبي انسټیټیوټونو ته یو مکتوب خپور کړ چې په کې راغلي چې د ښځینه محصلینو وروستۍ ازموینې باید د دوه اونیو په ترڅ کې واخیستل شي. په پایله کې، یو شمیر انسټیټوټونو د خپلو ښځینه زده کونکو لپاره ازموینې ترسره کړې سره له دې چې دغو زده کونکو خپل کورس بشپړ کړي نه و. د راپور له مخې د نارینه زده کونکو ازموینې نه دي اغیزمنې شوې.

تر دې دمه، *برحاله* چارواکو دغه بندیز په لیکلي بڼه نه دی خپور کړی.

### *پر ښځو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قانون اغیزې*

برحاله چارواکو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون پلي کولو ته دوام ورکړی،[5] په داسې طریقه چې د ښځو او نجونو پر وړاندې تبعیض ترسره کوي چې د هغوی بشري حقونه او بنسټیزې آزادۍ یې اغیزمنې کړي.

[1] په دې معلوماتو کې کارول شوې نېټه ۲۰۲۴ کال ده، البته که د بل مشخص تاریخ یادونه شوې وي.
[2] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لیک نمبر ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) د 2727 (2024) پریکړه لیک په اساس تمدید شو.
[3] https://unama.unmissions.org/unama-urges-de-facto-authorities-embrace-global-human-rights-obligations
[4] https://tolonews.com/index.php/health-192091
[5] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د امربامعروف او نهي عن المنکر قانون ، وګورئ: د افغانستان د بشري حقونو وضعیت: د جولای – سپتمبر ۲۰۲۴ تازه معلومات (یوناما، اکتوبر ۲۰۲۴).

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ولایتي ریاستونه د محرم ارتیا په داسې طریقو پلي کوي چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون لخوا په واضح ډول نه دي مشخص شوي، د ښځو او نجونو لپاره عامه خدماتو ته د لاسرسي، کار کې ګډون کولو او له کور څخه بهر د نورو فعالیتونه ترسره کولو لپاره اضافي خنډونه رامنځته کوي. د مثال په ډول:

- په ځینو ولایتونو کې له ښځینوو روغتیایي کارکوونکو څخه *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو غوښتلي چې له کاره کور ته راځي، باید یو محرم ورسره وي. *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته ویلي چې: "د محرم موضوع د امر بالمعروف او نهي عن المنکر او شکایتونو د اوریدلو وزارت په قانون کې روښانه شوې ده. داسې څه نه دي ترسره شوي".
- په دسمبر کې، په کندهار ولایت کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د ریاست محتسبینو له یوه محلي رستورانت څخه لیدنه وکړه او کارکوونکو ته یې لارښوونه وکړه چې ښځو ته پرته له محرم څخه رستورانت ته د داخلېدو اجازه ورنه کړي او داډ ترلاسه کړي چې د مختلفو کورنیو ښځو او نارینوو ترمنځ هیڅ ګډیدل رامنځ ته نه شي.

یوناما همدارنګه د دې راپورونه ترلاسه کړي چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو روغتیايي کلینیکونو، هټیو، مارکیټونو او ریستورانتونو ته لارښوونه کړې چې هغو ښځینو ته له خدماتو وړاندې کولو ډډه وکړي چې محرم ورسره نه وي.

په ځینو ولایتونو کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاستونو پر ښځو باندې اضافي، خپل سري محدودیتونه وضع کړي چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په قانون کې شتون نه لري:

- د اکتوبر په میاشت کې د سمنګان ولایت په هزار سلطان ولسوالۍ کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست په دې ولسوالۍ کې موټر چلوونکو ته یوه لیکلې لارښوونه صادره کړه چې په کې ویل شوي و چې ښځې د موټر په مخکنۍ څوکۍ کې له ناستې منع دي[6]. *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته ویلي چې " د امر بالمعروف او نهي عن المنکر او شکایتونو د اوریدلو وزارت چارواکي او محتسبین په ډاډ سره څرګندوي چې دوی هیڅ داسې عمل نه دی ترسره کړې چې د کومې مادې، بند، برخې یا د دوي د ښه مستند او استدلال قانون څخه سرغړونه کوي. زموږ د بشپړو څېړنو او معلوماتو پر بنسټ، [دا] له حقیقت څخه لرې ده."
- د نومبر په میاشت کې، په کابل کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست محتسبینو له یوه خصوصي روغتون څخه لیدنه وکړه او ښځینه نرسانو ته یې لارښوونه وکړه چې په بیړني وارډ کې کار ونه کړي، دوی ته یې وویل چې دوي باید د ښځو لپاره په ټاکل شویو برخو کې کار وکړي، لکه نسایي ولادي.

## *د نجونو زده کړې*

د نومبر په میاشت کې، د پکتیا او ننګرهار ولایت د *برحاله* پوهنې ریاستونو ښوونځیو او غیر دولتي موسسو (NGOs) ته چې د چټکو زده کړو پروګرامونه[7] یې پلي کول لارښوونه وکړه چې تر بلې خبرتیا پورې د نجونو لپاره ټولګي بند کړي. په دواړو ولایتونو کې د هلکانو ټولګي پرانیستي دي. د لارښوونې لامل نامعلوم دی.

## *کار ته د ښځو لاس رسی*

*برحاله* چارواکو په ځینو سوداګریزو ننداړتونونو کې ښځې له ګډون څخه منع کړي او د ځینو ښځو لخوا پر مخ وړونکو دوکانونو[8] د تړلو امر یې کړی. د بیلګې په توګه، *برحاله* چارواکو ښځې د اکتوبر د 15

[6] په دې لیکلې لارښوونه کې نور احکام هم شامل دي، لکه: ډرایورانو ته پرته له مهرم څخه د ښځو د لیږدولو منع؛ د ښځینه مسافرو سره د رومانتیکو خبرو کولو منع؛ او د موسیقۍ غږولو منع. دغه لارښوونه له ډرایورانو څخه هم غوښتنه کوي چې پنځه وخته لمونځ په جومات کې ادا کړي.
[7] د چټکو زده کړو پروګرامونه (ALPs) په لږ وخت کې د زده کړو پر بشپړولو تمرکز لري. دغه پروګرامونه د بشپړونکي تعلیم یوه بڼه ده. د بدیل تعلیم په څیر، دوی د رسمي تعلیمي سیستم ورته پای ته رسېږي، خو په لږ وخت کې. دواړه په بدیلي لارې چمتو کولو کې او د خپل نصاب د 'رسمي' نصاب سره په برابرولو کې بشپړونکی دی، چې زده کوونکو ته د دې زمینه برابروي چې په یوه وخت کې رسمي ښوونځي ته ستانه شي. وګورئ:
https://unevoc.unesco.org/home/tvetipedia+glossary/lang=en/show=term/term=Accelerated+learning+programme#:~:text=Accelerated%20learning%20programme%20(ALP),reach%20it%20in%20less%20time.
[8] دغه اقدامات معمولاً د ښځینه دوکاندارانو او پلورونکو ته د شفاهي لارښوونو له لارې ترسره کیږي، چې زیاتره وخت د *برحاله* امر بالمعروف و نهي عن المنکر محتسبینو لخوا کیږي، که څه هم په ځینو مواردو کې نورو *برحاله* وزارتونه هم پکې دخیل شوي دي.

څخه تر 17 پورې په خوست ښار کې د "ګنجینې افغانستان ملي نندارتون" کې له ګډون څخه منع کړې. یوازې نارینه نندارچیانو ته اجازه ورکړل شوې وه چې خپل محصولات ننداریې ته وړاندې کړي.

د 2022 کال د دسمبر په 24، *برحاله* د اقتصاد وزارت یو حکم صادر کړ چې افغان ښځینه کارکوونکې په کورنیو او نړیوالو نادولتي موسسو کې کار کولو څخه منع دي. د دسمبر په 26، *برحاله* د اقتصاد وزارت یو لیک خپور کړ چې غیر دولتي موسسو ته یې د 2022 کال د دسمبر په 24 نیټه د لارښوونې یادونه وکړه او هغوی ته یې وویل چې "د دې مطابق کار وکړئ"[9]. د راپور ورکولو په موده کې، یوناما همدارنګه د دې راپورونه ترلاسه کړي چې په ځینو ولایتونو کې *برحاله* د کار او ټولنیزو چارو ریاستونو لخوا د ښځو هغه غوښتنې رد شوې چې د ملي او نړیوالو نادولتي سازمانونو سره د کار لپاره د جواز ترلاسه کولو لپاره شوې وې.

### *د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی*

د راپور ورکولو په دغې موده کې، یوناما د ښځو او نجونو پر وړاندې د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالی پېښې ثبت کړي دي، چې په کې وژنې، ناموسي قتلونه، د ماشومانو ودونه، اجباري ودونه، جنسي تېری، کورنی تاوتریخوالی او د کورنی تاوتریخوالی له امله ځان وژنې شامل دي. سره له دې چې د متضرر شخص یا یې استازي غوښتنه کوي چې قضیه یې د عدلي ارګانونو له لارې په رسمي ډول حل شي، خو په ځینو مواردو کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر چارواکو د مشدده حالاتو لرونکې قضې، لکه عمدي قتل د منځګړیتوب له لارې حل کولو ته راجع کوي.

د راپور ورکولو په دغې موده کې، د *برحاله* چارواکو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت، د کورنی تاوتریخوالی له قربانیانو سره د دوی له خوا د ترسره شوو مرستو په اړه خبر ورکړي. د بیلګې په توګه، د دسمبر پر ۲۳ مه نېټه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت پر خپلې X پاڼه لیکلي چې د دوی مؤظفینو د کورني تاوتریخوالي په اړه د دوه کورنیو ترمنځ شخړه هواره کړې ده. په یاده ناسته کې مؤظفینو له دواړو خواوو وغوښتل چې انصاف وکړي او د یو بل حقوقو ته درناوی وکړي، او یادونه یې وکړه چې اسلامي اصولو ته درناوی ټولنه له ستونزو ژغوري.[10] یوناما مخکې راپور ورکړی و چې د برحاله چارواکو لخوا د کورنی تاوتریخوالی د شکایتونو د حل لپاره د منځګړیتوب څخه استفاده شوې ده، دا کړنه که په داسې طریقه ترسه نه شي چې د نړیوال بشري حقونو له قواعدو سره سمون ولري، نو د بشري حقونو د سرغړونې سبب کیدای شي.[11]

یوناما همدارنګه د LGBTIQ ډلې له یو شمیر هغو افرادو سره خبرې کړې چا چې راپور یې ورکړی د برحاله چارواکو لخوا د خپلسرو نیونو او په توقیف ځایونو کې له شکنجې او جنسي تاوتریخوالی سره مخ شوي دي.

## ملکي تلفات

د اکتوبر او دسمبر تر منځ عمدي بریدونو چې مسؤولیت یې داعش ډلې، د ملي مقاومت جبهې او نورو وسله والو ډلو پر غاړه اخیستی و، ملکي وګړي زیانمن کړي:

- د اکتوبر په ۵ مه تخار کې د یوې لیسې مخې ته د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو چاودنه وشوه، چې څلور نجونې، دوه هلکان، یو سړی او دوه پولیس افسران یې ټپیان کړل. د ملي مقاومت جبهې د برید مسوولیت پر غاړه اخیستی[12] او ویلي یې دي چې د برید هدف د کورنیو چارو وزارت یو تن چارواکی ملا نور محمد و.
- د اکتوبر په ۲۳مه د کابل ښار لومړۍ ناحیې کې د یوه لاس ګاډي [کراچۍ] لاندې د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله دوه تنه (یو ۱۶ کلن هلک او یو سړی) ووژل شول او ۱۴ تنه نور ټپیان شول (اته نارینه، درې ښځې، یوه نجلۍ او دوه هلکان). د پېښې مسوولیت چا پر غاړه نه دی اخیستی.
- د نومبر په ۳ مه د سرپل ښار په سخي زاده مارکېټ کې د ځای پر ځای شوي چاودیدونکي

[9] https://www.ohchr.org/en/statements-and-speeches/2024/12/afghanistan-licenses-ngos-must-not-be-revoked
[10] https://x.com/MOPVPE1/status/1871145135355875711
[11] https://unama.unmissions.org/sites/default/files/the_handling_of_complaints_of_gbvawg_english_141223.pdf (یوناما، 2023)
[12] https://www.facebook.com/nrfafg1

توکي وچاودیدل، چې ۱۸ تنه یې ټپیان کړل (۱۲ نارینه، درې ښځې، دوه نجونې او یو هلک). د پېښې مسوولیت چا پر غاړه نه دی اخیستی.

- د نومبر په ۲۱ مه د بغلان ولایت په نهرین ولسوالۍ کې وسله والو ۱۱ تنه سرې په ډزو ووژل. قربانیان د اهل تصوف پیروان وو چې د برید پر مهال په یوه زیارت کې پر عبادت بوخت وو. د برید مسوولیت داعش ډلې منلی.
- د دسمبر په ۱۱مه د کابل ښار د ۷مې ناحیې اړوند د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت په انګړ کې ځانمرګي برید د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزیر خلیل الرحمن حقاني وواژه. په چاودنه کې د وزارت درې نور کارکوونکي وژل شوي او څلور نور ټپیان دي. د برید مسوولیت داعش ډلې منلی.
- د ۲۰۲۴ کال د دسمبر په ۲۱ مه د تخار ولایت په مرکز تالقان ښار کې په کثافات دانۍ کې ځای پر ځای شوی ماین وچاودید چې له امله یې یو ملکي کس ټپي شو. د افغانستان د ازادۍ جبهې د خپلې X پاڼې له لارې د برید مسوولیت منلی او ویلي یې دي چې هدف یې پولیس و.[13]
- د دسمبر په ۲۸مه د کابل ښار په ۱۵مه ناحیه کې د ځای پر ځای شوي ماین په چاودنه کې یو ملکي وګړی وژل شوی او څلور نور ټپیان شوي دي. د ملي مقاومت جبهې د برید مسوولیت پر غاړه اخیستی او ویلي یې دي، چې هدف یې اصلاً د کورنیو چارو وزارت و او په دې پېښه کې ملکي وګړو او د ملي مقاومت جبهې غړو ته زیان نه دی اوښتی.[14]

له جګړې څخه پاتې شوي چاودیدونکي توکي هم ملکي وګړو ته زیان رسوي چې ډیری قربانیان یې ماشومان دي. یوناما له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله 64 تلفات (اته نجونې، 39 هلکان، 16 نارینه، یوه ښځه) ثبت کړي دي. د مثال په توګه، د اکتوبر په ۱۹ مه د غزني ولایت په قره باغ ولسوالۍ کې یو ناچاوده ماین وچاودېد چې له امله یې درې هلکان (۹، ۱۱ او ۱۵ کلن) ووژل شول او درې نور هلکان (۵، ۶ او ۸ کلن) او یو نارینه ټپیان شول. پېښه هغه مهال رامنځ ته شوه، چې دوی د کچالو په ټولولو بوخت وو، چې ناچاوده توکي یې په بیلچه وواهه.

## د پولې په اوږدو کې پیښې

د افغانستان په پکتیکا او پکتیا ولایتونو کې د پولې په اوږدو کې پیښې د ملکي تلفاتو لامل شوې:

- د دسمبر پر ۲۴مه شپې د برمل ولسوالۍ په مارغه، لامان، انګور اډه، چرخوراټې اډه، تنګې، پسه مېله او وزیرګې په ګډون پر ګڼو کلیو د پاکستاني نظامي ځواکونو له خوا د هوايي بریدونو له امله ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې. لږ تر لږه ۴۵ کسان وژل شوي (۳۰ ماشومان، اته ښځې او اوو نارینه) او اته ټپیان شوي (شپږ ماشومان او دوه ښځې). د دسمبر پر ۲۵ نېټه، د برحاله چارواکو ویاند ذبیح الله مجاهد آزادي راډیو ته وویل چې په دغو بمباریو 46 کسان وژل شوي او شپږ نور ټپیان شوي، چې زیاتره قربانیان ښځې او ماشومان دي.
- د دسمبر د 28 پر سهار د پکتیا ولایت په ډنډه پټان ولسوالۍ کې د *برحاله* امنیتي ځواکونو او پاکستاني نظامي ځواکونو ترمنځ د پولې په اوږدو کې یو پر بل ډزې د ملکي تلفاتو لامل شوې. د پولې پر افغان لوري درې نارینه لویان وژل شوي او شپږنور ټپیان شوي، د راپورونو له مخې د هغه هاوان له امله چې د پاکستان له لورې توغول شوی و.

په ځواب کې، په افغانستان کې د پاکستان سفارت یوناما ته خبر ورکړ چې: "د مؤقتې اداري د *برحاله* افغان چارواکو له خوا د تحریک طالبان پاکستان (ټي ټي پي) پر ضد د اقدام نه کولو، چې پر افغان خاوره له خوندي پټنځایونو برخمن دي، او دا چې د پولې په افغان اړخ کې ترهګریز بریدونه پلان او تنظیم شوي، په اړه د پاکستان اندېښنې په ښه توګه مستندې او په عام ډول ټولو ته معلومې دي" او دغه راز یې "پر پاکستاني

[13] https://x.com/FREEDOMFRONTAFG/status/1870517104237228072
[14] https://x.com/NRFafg/status/1872934639926448481

نظامي تاسيساتو او پرسونلو د بې دليله ډزو" يادونه وکړه.[15]

## اعدام او بدني مجازات

د اکتوبر مياشتې د لمړۍ او ډيسمبر مياشتې د ۳۱ مې نيټې ترمنځ، د يوناما د بشري حقونو څانګې د لړ تر لړه 194 افرادو (150 نارينه، 39 ښځې، 4 هلکان او 1 نجلۍ) پر ضد قضائي بدني مجازات مستند کړي. د مثال په ډول، د نومبر په ۵ مه نېټه د جوزجان ولايت په شبرغان ښار کې ۲۲ کسان ( ۴ ښځې او ۱۸ نارينه) چې د زنا، نشه يي توکو او الکولي مشروباتو پورې اړونده جرمونو باندې محکوم شوي وو، د *برحاله* چارواکو لخوا په عام محضر کې په دورو ووهل شول. دغه مجازات د سترې محکمې له تائيدې څخه وروسته د *برحاله* چارواکو د منسوبينو او عامه وګړو په حضور کې پلي شول.

د نومبر مياشتې په ۱۳ مه نېټه د پکتيا ولايت په ګرديز ښار کې يو کس نارينه په عام محضر کې په يوه ورزشي لوبغالي کې اعدام شو. په هغې بيانيه کې چې د سترې محکمې[16] لخوا خپره شوې، دغه شخص د کلاشينکوف په واسطه د يوه شخص په وژلو محکوم شوی او د حکم د پلي کيدو په موخه، د اعدام جزاء حکم د طالبانو د مشر تر نهائي منظورۍ مخکې، د دريګونو نظامي محاکمو (ابتدائيه، مرافعه او تميز) له لخوا تائيد او ابلاغ شو.

د هغو وزيرانو په وساطت سره چې په مجلس کې يې حضور درلود، د مقتول کورنۍ ته دې بخښنې او سولې فرصت ورکړل شو،[17] اما د دوی لخوا رد شو چې په نتيجه کې يې د قصاص (اعدام) جزا پلي شوه. د راپورونو له مخې قصاص د مقتول کورنۍ د يوه تن لخوا د ډزو په وسيله ترسره شو.

د اعدام د ترسره کيدو په غونډه کې د کورنيو چارو وزير سراج الدين حقاني، پخوانی د کډوالو او بيرته راستنيدونکو چارو وزير مرحوم الحاج خليل الرحمن حقاني په ګډون د برحاله چارواکو يوه پلاوي او دغه راز يو شمير سيمه ييزو اوسيدونکو ګډون درلود.

برحاله د بهرنيو چارو وزارت يوناما ته خبر ورکړی چې: "د افغانستان اسلامي امارت تل هڅه کوي، چې د شريعت احکام په کلکه پلي کړي او په ټولنه کې د عدالت اصول وساتي."

## د بيان آزادي

د نومبر مياشتې په ۲۶ مه نېټه يوناما/د بشري حقونو لپاره د عالي کميشنر دفتر، په افغانستان کې د رسنيو آزادي تر عنوان لاندې يو راپور خپور کړ، دغه راپور د ۲۰۲۱ کال د اګست مياشتې له ۱۵مې نېټې څخه د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر مياشتې تر ۳۰ مې نېټې پورې موده تر پوښښ لاندې نيسي.[18] راپور موندلې چې د *برحاله* چارواکو وضع شوي تدابير چې له امله يې د رسنيو په محتوا او د رسنيزو اداراتو په داخلي چارو کې مداخله کوي، په افغاسنان کې د رسنيو آزادي په خورا توګه کمه کړې. د رسنيو ښځينه کارکونکې د *برحاله* چارواکو لخوا له لا ډيرو ننګونو سره مخ دي او د خپلو نارينه همکارانو په پرتله د معلوماتو په تر لاسه کولو کې له ډيرو ستونزو سره مخ دي. دغو ننګونو ښځينه خبريالانې په عمده توګه د دفتر په دندو پورې محدودې کړې دي. ښځينه خبريالانې زياتره د *برحاله* چارواکو لخوا مطبوعاتي کنفرانسونو ته نه بلل کيږي او يا هم ور څخه غوښتنه کيږي چې د کنفرانس خونې په شاتنې برخه کې شتون ولري. ځينې *برحاله* چارواکې د ښځينه خبريالانو سره د خبرو او مرکې څخه ډډه کوي. د طالبانو له خوا د واک ترلاسه کولو راهيسې هغه ننګونې چې رسنۍ ورسره مخ دي له د عوايدو له لاسه ورکولو او د مرستندويه اداراتو د ملاتړ له ترل کيدو سره ملې دي.

د نومبر پر ۲۶ نېټې د راپور موندنو ته په ځواب کې د *برحاله* چارواکو وياند ويلې چې "هيڅ رسنۍ په وړاندې زور زياتې نه دی شوی"[19] او همدارنګه د *برحاله* چارواکو د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت څرګنده کړه چې "هيڅ يو خبريال د يوه خبريال په حيث نه دی زنداني شوی".[20] د برحاله چارواکه د بهرنيو چارو وزارت هم ويلې چې راپور عينی نده او موندنې يې رد کړې دي.[21]

[15] په افغانستان کې د پاکستان سفارت هم يوناما ته خبر ورکړی چې د ۲۰۲۴ کال په دسمبر مياشت کې د پولې د پاکستان په لوري د *برحاله* امنيتي ځواکونو "د بې توپيره ډزو" له امله ۲۲ ملکي تلفات رامنځ ته شوي. دغه شمېرې په خپلواک ډول د يوناما له خوا نه دي تصديق شوي.

[16] https:/x.com/SupremeCourt_af/status/1856622580318216684/photo/1/; https://x.com/SupremeCourt_af/status/1856628140325421561

[17] https:/x.com/SupremeCourt_af/status/1856622580318216684/photo/1/; https://x.com/SupremeCourt_af/status/1856628140325421561

[18] بشپړ راپور دلته د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting-0.

[19] https://x.com/TOLOnews/status/1861395647074844785

[20] https://tolonews.com/afghanistan-191856

[21] https://www.ariananews.af/iea-rejects-new-unama-report-on-media-restrictions-in-afghanistan/

### د بیان پر آزادۍ د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون اغېزې

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون له پلي کېدو سره د رسنیو آزادي لا زیاته آغېزمنه شوې ده. نوموړي قانون د *برحاله* چارواکو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو ته دنده سپاري ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د رسنیو محتوا له شریعت سره سمون لري، مسلمانان به نه توهینوي او د ژوندیو موجوداتو انځورونه به کې شتون نلري. د دغو احکامو د پلي کېدو له امله یو شمیر رسنۍ د خپلو خپرونو بندولو ته اړ شوې دي.

- د ژوندیو موجوداتو د انځورونو خپرولو د بندیز په پایله کې، په کندهار کې د ملي راډیو ټلویزیون عامه نشراتو خپل تصویري برنامې بندې کړې؛ په هملند ولایت کې، یوه شخصي تلویزیوني سټېشن خپلې خپرونې بندې کړې او ملي راډیو تلویزیون خپرونو د ژوندیو موجوداتو له انځورونو پرته پیل شوې.
- د اکتوبر میاشتې په ۱۶ مه نېټه په تخار ولایت کې د ملي راډیو ټلویزیون نشرات د څه باندې یوې میاشتې لپاره وځنډول شول، او د دسمبر میاشتې په لومړیو کې یې خپرونې په عادي ډول بېرته پیل کړې. په تخار او بادغیس ولایتونو کې ځینې تلویزیوني چینلونو، د ژوندي موجوداتو د انځورنو خپرولو پرته د خپلو خپرونو نشرولو ته دوام ورکړ.
- *برحاله* د اطلاعات او کلتور ریاستونو په یو شمیر ولایتونو کې خبریالانو ته په شفاهي ډول لارښونه کړې چې د ژوندي موجوداتو انځورونه، جوړ، خپاره یا نشر نه کړي.
- د ډسمبر میاشتې په ۴ مه نېټه، په کابل کې د *برحاله* چارواکو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په آرزو ټلویزیون تور ولګاوه چې نامناسب سریالونه او برنامې یې ژباړلي چې د اسلامي او افغاني اصولو او دودونو خلاف دي.[22] د دغه ټلویزیون فعالیتونه ودرول شول او څو کارکوونکي یې ونیول شول. هغوی د دسمبر میاشتې په مینځ کې خوشې شول، خو آرزو ټلویزیون لا هم تړلی پاتې دی.

*برحاله* د بهرنیو چارو وزارت یوناما ته خبر ورکړی چې: "د اطلاعاتو او کلتور وزارت په ډاګه کوي .... چې د یادو ولایتونو [کندهار، تخار او بادغیس] له خوا پر رسنیو د بندیز په اړه کوم رسمي اسناد نه دي ترلاسه شوي. نوموړی وزارت پر دې باور دی چې دغه موضوع به د کره شواهدو او تایید شویو معلوماتو پر بنسټ و ارزول شي، او تر دې دمه دغه ادعاوې یوازې اوازې ګڼل کېږي."

*برحاله* چارواکي د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون پلي کولو لپاره د چارواکو ترمنځ د پوهاوي لوړول، عام ولس ته لارښوني او مشورې ورکول او د قانون د فعاله تطبیق له لارې هڅې رواني ساتلي. یوناما د هغو خپلسرو نیونو او بندي کولو پېښې او موارد چې اوس په قانون کې شامل شوي او د خلکو د بیان آزادي ته زیان رسوي، مستند کړي. د هغو کسانو چې خپلې ږیرې یې له قبضې څخه لنډې کړې وې؛ سلمانانو چې د غیر منظوره ویښته او ږیرې یې جوړې کړې او د هغو کسانو چې په ودونو کې یې موسیقي غږوله یا انځورونو او ویډیوګانې یې اخیستې دي، نیونې ثبت شوې دي.

## عدلي اجراآت

د اکتوبر په ۲مه، طلوع نیوز راپور ورکړ چې *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ویاند ویلي دي چې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې (مارچ څخه تر سپټمبر پورې) *برحاله* امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت سره له ۱۷۰۰ څخه زیات شکایتونه ثبت شوي دي، په دغو شکایتونو کې چې ډیری یې حقوقي دي، «د اسلامي امارت د کارکوونکو او نظامي پرسونل» له خوا ناوړه چلند د ترسره کولو په اړه انتقادونه شامل دي. له دې جملې څخه، د راپور له مخې له ۲۵۰ څخه ډیرې قضیې حل شوي، او پاتې شکایتونه تر څېړنې لاندې دي. ویاند زیاته کړه، چې د مناسبو اجراآتو لپاره په هېواد کې دننه او بهر وګړي کولای شي د دولتي ادارو د کړنو او همدارنګه د نظامي او ملکي منسوبینو د ناوړه چلند په اړه خپل شکایتونه د ایمیل، ۱۹۱ شمېرې او یا هم په لیکلي ډول د وزارت د شکایتونو کمېسیون ته وړاندې کړي.[23]

د اکتوبر په ۱۲مه، *برحاله* د عدلیې وزارت د سپټمبر د

[22] https://x.com/MOPVPE1/status/1864560398776541358
[23] https://tolonews.com/afghanistan-190996

۲۳مې نېټې رسمي جریدې په خپرولو سره یو قانون او څلور فرمانونه اعلان کړل.[24] د یادونې وړ ده چې د ۲۰۲۴ کال د آگست میاشتې د ۲۶مې نېټې د محاکمو د فیصلو په هکله فرمان، د لوړو محکمو لپاره یو طرزالعمل په ګوته کوي ترڅو د تحتاني محکمو د هغو فیصلو څخه بیاکتنه ترسره او سم یې کړي چې د قانون خلاف صادرې شوې وي: که په حکم کې د تناقض له امله وي یا په جنجالي اعترافونو باندې ولاړې فیصلې وي.

د اکتوبر په ۱۹مه، د زندانونو د چارو د سمون اداري عمومي رئیس وویل چې د ۱۰۰ بهرنیو اتباعو په ګډون، شاوخوا ۱۱۰۰۰ څخه تر ۱۱۵۰۰په جزا محکوم شوي نارینه او لږ تر لږه ۱۰۰۰ په جزا محکومې میرمنې چې مختلف جرمونه یې ترسره کړي، د هیواد په زندانونو کې بندیان/بندیانې دي. او شاوخوا ۱۲۰۰۰ تورن کسان د محکمې وروستۍ فیصلې ته په تمه دي. له بهر څخه د افغان بندیانو د لېږد لپاره یوه کمېټه جوړه شوې، چې *برحاله* د بهرنیو چارو وزارت، *برحاله* د کورنیو چارو وزارت، *برحاله* د عدلیې وزارت، *برحاله* د سترې محکمې او *برحاله* د زندانونو د چارو د سمون اداري له استازو څخه جوړه شوې ده، دا کمیټه له بېلابېلو هېوادونو څخه افغانستان ته د بندیانو د لېږد چارې پرمخ وړي.[25]

د دسمبر په لومړۍ نېټه، *برحاله* سترې محکمې راپور ورکړ چې *برحاله* د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د قاضیانو لپاره د قضايي سلوک مقرره چمتو کوي؛ د قضايي کادر د حقوقو او امتیازاتو مقرره او د نظامي محکمو لایحه یې چمتو کړې او د غور لپاره یې د *برحاله* سترې محکمې عالي شورا ته وړاندې کړې، او «د معاصر تحقیق د قرائنو» مسوده یې د *برحاله* سترې محکمې قضايي معاونیت ته استولې ده.[26]

په دسمبر کې، د طالبانو د مشر لخوا تصویب شوي نوي فرمانونه اعلان شول، چې په لاندې ډول دي:

- د دسمبر په ۲۱مه، د شریعت او شته قوانینو سره سم د متقاعدینو د تقاعد د حقوقو د حل لپاره د ځانګړو محکمو د جوړولو لپاره فرمان صادر شو[27]؛
- د دسمبر په ۲۵مه، د انساني قاچاق د منع فرمان صادر شو چې *برحاله* د کورنیو چارو وزارت ته واک ورکوي تر څو انساني قاچاقبران تثبیت او ونیسي، او نظامي محکمو ته یې وروپېژني، همدارنګه د اړتیا په صورت کې *برحاله* د دفاع وزارت او *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست په مرسته د قاچاق مخه ونیسي. *برحاله* وزارتونو ته په ګډود د *برحاله* حج او اوقافو او ارشاد وزارت، *برحاله* د پوهنې وزارت، ، *برحاله* د لوړو زده کړو وزارت، *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت، *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت او *برحاله* د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت ته یې دنده سپارلې چې د دغه ممانعت په اړه د خلکو پوهاوي لوړولو څخه ډاډ ترلاسه کړي[28]؛

د دسمبر په ۲۸ مه، یو فرمان صادر شو چې له مخې یې نوې جوړې شوې ودانۍ باید داسې کړکۍ ونه لري چې د ګاونډیانو د کورونو انګړ، پخلنځي، څاه او داسې نور ځایونه چې ښځې په کې ناسته ولاړه کوي، ور څخه ښکاره شي. په فرمان کې راغلي هغه ودانۍ چې مخکې جوړې شوي او کړکۍ یې داسې پرېښودل شوې وي، مالکان یې مکلف دي چې په کړکۍ کې د دیوال په پورته کولو سره «ګاونډیانو څخه ضرر دفع کړي». فرمان ښاروالۍ او «نورو اړوندو ارګانونو» ته دنده ورکوي چې د نوی ودانیو د جوړولو څخه خارنه وکړي ترڅو د فرمان سره مطابقت ډاډمن کړي.[29]

[24] https://x.com/MojAfghanistan/status/1845050610388721886 . د۲۰۲۴ کال د سپتمبر میاشې ۲۳ مه نیټې خپره شوې رسمي جریده (۱۴۴۵)، چې د صنعتي پارکونو قانون؛ له غاصبینو څخه د استرداد شویو امارتي ځمکو د پلورنې د منعې فرمان؛ د نظام اړوند امورو د نشر په اړه فرمان؛ د محاکمو د فیصلو په هکله فرمان؛ او د امارتي شرکتونو د خارنې پلاوي ټاکلو او د امارتي شرکتونو د لوی ریاست د تشکیل منظورولو په هکله فرمان ته شامل ده. دلته د لاس رسي وړ دي: .http://laws.moj.gov.af/ShowLawPersian.aspx
[25] https://www.ariananews.af/about-12000-men-and-1000-women-being-detained-in-countrys-prisons-yusuf-mestri/; https://www.youtube.com/watch?v=iGc_tzDhYR4
[26] https://x.com/SupremeCourt_af/status/1863190205647233496
[27] https://x.com/bnaenglish/status/1870403430902075444
[28] https://www.youtube.com/watch?v=73sAEgm0r5U؛ https://x.com/MojAfghanistan/status/1871784514655252674
[29] https://x.com/FitratHamd/status/1872989789424894275 ؛ https://x.com/ARG_1880/status/1873001062053167479

## ضمیمه: د برحاله چارواکو له خوا د هغو پرېکړو زماني جدول چې ښځې او نجونې اغېزمنوي

### ۲۰۲۴

**د دسمبر ۲۶مه**
برحاله اقتصاد وزارت یو مکتوب خپور کړو چې په داخلی او نړیوالو موسساتو کې د ۲۰۲۲ کال دسمبر ۲۴ د ښځینه کارکونکو د بندیز بیا یادونه کوي.

**د دسمبر ۲مه**
برحاله چارواکو په شفاهي ډول روغتیایي انستیتوتونو ته امر وکړ چې په خپلو انستیتوتونو کې میرمنې او نجونې له زده کړو بندې کړي.

**د اګست ۲۱مه**
برحاله عدلیې وزارت د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون خپور کړ.[۴]

**د جون ۲مه**
د چارواداري لوی ریاست یو شمېر برحاله ولایتي ریاستونو ته یو مکتوب صادر کړ په کوم کې چې لارښوونه شوې چې د رتبې په پام کې نیولو پرته د تېر جمهوریت د اداري له لوړې پر دندو د ګمارل شویو ښځینه کارکوونکو میاشتنی معاش ۵۰۰۰ افغانۍ[۲] یو شان کړي.[۳]

### ۲۰۲۳

**د جون ۲۵مه**
برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت یو مکتوب صادر کړ چې د ۲۰۲۳ کال د جولای تر ۲۵ پورې بې د ښځو د ټولو سنګارتونونو د تړلو امر کاوه.

**د اپریل ۵مه**
برحاله بهرنیو چارو وزارت یوناما ته په شفاهي ډول د هغې پرېکړې په اړه خبر ورکړی چې د ملګرو ملتونو لپاره پر ښځینه داخلي کارمندانو سخت محدودیتونه وضع کوي، یوازې د روغتیا او د لومړنیو زده کړو د سکتورونو په استثناء سره.

**د فبروری ۱۲مه**
برحاله د افغانستان طبی شوار د طب پوهنځیو څخه په خروجي ازموینه (Exit Exam) کې ښځې له ګډون کولو څخه منع کړې.

### ۲۰۲۲

**د دسمبر ۲۴مه**
برحاله اقتصاد وزارت په داخلي او نړیوالو موسساتو کې افغانی ښځینه کارکونکې له کار کولو څخه منع کړې.

**د دسمبر ۲۰مه**
برحاله د لوړو زده کړو وزارت په ښځینه وو محصلینو تر امر ثاني پورې لوړی زده کړی بندې.

**د نومبر ۱۰مه**
برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ښځې د پارکونو، جیمونو، او عامه حمامونو له کارونې څخه منع کړې.

**د مې ۷مه**
برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د حجاب فرمان معرفي کړ کوم چې دا غوښتنه کوي چې ښځې باید له نا اړوندو نارینه وو سره د تعامل پرمهال په بشپړ ډول ټول خان (له سترګو پرته) پټ کړي.

**د مارچ ۲۷مه**
برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت امر وکړ چې ښځینه او نارینه باید پارکونو ته په جلا جلا ورځو کې ولاړ شي. همدارنګه هغه ښځې چې پارکونو ته ځي باید په کلکه حجاب مراعات کړي او د ناآشنا خلکو سره د یوځای کېدو څخه باید په جدي ډول ځان وساتي.

**د مارچ ۲۳مه**
برحاله پوهني وزارت اعلان وکړ چې له شپږم ټولګي پورته به د نجونو ښوونځی بند پاتې وي.[۱]

**د فبروری ۲۷مه**
برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت موټر چلونکي د هغه ښځو د سفر/سورلۍ څخه منع کړل کومې چې له ۷۸ کېلو متره څخه زیات سفر کوی او محرم ونلری او همدارنګه حجاب یې نه یې مراعات کړی.

### ۲۰۲۱

**د دسمبر ۳۱مه**
برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ښځو ته لارښونه وکړه چې په سفر کې باید له ځان سره محرم ولری کله چې یې سفر له ۷۸ کېلو مترو څخه زیات وي.

**د دسمبر ۳مه**
د طالبانو مشر د ښځو د حقونو په اړه یو فرمان صادر کړ، په کوم کې چې د ښځو اجباري نکاح او یا په بدو کې د ښځو د ورکولو منع شامل دي.

**د نومبر ۲۱مه**
برحاله امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت ښځې په فلمونو کې له راځرګندیدو څخه منع کړې.

**سپتمر**
برحاله چارواکو له ټولو ښځینه ملکي کارکونکو څخه وغوښتل چې پر کور پاتې شي پرته له هغو چې په تعلیمي، روغتیايي او امنیتي سکتورونو کې کار کوي.

**د سپتمر ۷مه**
برحاله چارواکو لخوا داسې سرپرسته کابینه جوړه شوه چې ټول غړی یې نارینه وو.

[۱] د نجونو لپاره له شپږم ټولګي پورته ښوونځي په لومړیو کې د ۲۰۲۱ کال په سپتمبر کې تړل شوي وو.

[۲] دا شا و خوا ۷۰ امریکایي ډالر کیږي.

[۳] د جولای پر ۷ نېټه، برحاله مالیې وزارت یو مکتوب خپور کړ چې روښانه یې کړه چې دغه امر پر هغو ښځینه ملکي کارمندانو د تطبیق وړ دی "څوک چې هره ورځ کار ته نه حاضریږي یا د وظایفو له لایحې سره سم خپلې دندې نه ترسره کوي" چې هغو ښځینه ملکي کارمندانو ته راجع کیږي چې د طالبانو تر راتګ وروسته چا ته چې د برحاله چارواکو له خوا ویل شوي چې په کور پاتې شي.

[۴] د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قانون په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، وګورئ: په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت: د جولای – سپتمبر تازه معلومات: دلته د لاسه رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting-0.